# د فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عنہ

# اعلیٰ صفتونه

**20-July-2023**



هفته وراه د سُنّتو ډکه اِجتِماع کښې کېدونکے

د سُنّتو ډک بیان

(For Islamic Brothers)

په 20 جولائي کال 2023ء د پاکستان په هفته وارو اجتماعاتو کښې کيدونکے بيان

# د فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ اعلٰی صفتونه

پیشکش

اَلْمَدِیْنَۃُ الْعِلْمِیَۃ (اسلامِک ریسرچ سنټر)

(شعبه بياناتِ دعوتِ اسلامي)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاك فضيلت

يوه ورځ د الله پاک آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خپل کور نه بهر تشريف راوړلو او يواځې يو طرف ته روان شو، د مسلمانانو دويم خليفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ چې دا اوليدل نو اوويريدو (چې هسې نه څوک دښمن ورته نقصان اونه رسوي)، هغوئي پاڅيدل او په هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پسې شاته روان شول، هغوئي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ اوليدل چې هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم يو ځائے ته د رسيدو سره اودريدلو او په سجده کښې ئې سر کيښودو. حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ چې دا اوليدل نو د ادب کولو سره وروسته شو او اودريدلو، کله چې سرورِ عالم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د سجدې نه سر راپورته کړو نو اوئې فرمائيل: اے عُمره! زه چې دې په سجده اوليدم نو تهٔ يو خوا ته اودريدې، تا ډير ښه اوکړل. نور ئې اوفرمائيل:

اِنَّ جِبْرِيْلَ اَتَانِيْ فَقَالَ مَنْ صَلّٰى عَلَيْكَ مِنْ اُمَّتِكَ وَاحِدَةً صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ عَشْرًا وَرَفَعَهُ بِهَا عَشْرَ دَرَجَاتٍ

بے شکه اوس جبريلِ امين عَلَیْہِ السَّلَام زما خوا له راغلے او عرض ئې اوکړو: يا رسولَ الله

صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! ستاسو کوم اُمتي چې په تاسو باندې يو ځل درود شريف اولولي، اللّٰه پاک به په هغه باندې 10 رحمتونه نازل کړي او 10درجے به ئې اوچت کړي.[1]

مومنو! پڑھتے نہیں کیوں اپنے آقا پر درود | ہے فرشتوں کا وظیفہ اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام[2]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د بيان اوريدلو نيتونه

**فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: اَفْضَلُ الْعَمَلِ اَلنِّيَّةُ الصَّادِقَةُ (يعني) رښتينے نِيَّت د ټولو نه افضل عمل دے.[3]

اے عاشقانِ رَسُول! رښتينے نيت د بخښنې ذريعه ده. د بيان اوريدلو نه مخکښې څه ښه ښه نِيَّتونه اوکړئ: مَثَلاً نِيَّت اوکړئ چې ❀ د اللّٰه پاک د رضا د پاره به بيان اورم ❀ عِلمِ دِين به زده کووم ❀ ټول بيان به اورم ❀ د عِلمِ دِين د تعظيم [يعني ادب] په نِيَّت به بااَدبه کښينم ❀ د اهلِ بيتو د ذکرِ برکتونه به حاصلووم ❀ بيان به اورم، په دې باندې د ځان پوهه کووم او د عمل کولو کوشش به پرې کووم.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

[1]... معجم اوسط، جلد:5، حديث:6602 ملتقطاً

[2]... قبالہ بخشش، صفحه:164

[3]... جامع صغير، صفحه:81، حديث:1284

# د صِدِّيق او د فاروق د محبت برکتونه

حضرت يحيٰي بن اسماعيل رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: زما يوه مشره خور وه، هغه ناروغه شوه او د هغې ذهني توازن په تللو شو. کم و زيات د 10 کالو نه زياده موده هغه په دې ازميښت کښې وه، د کور په چهت باندې يوه کمره وه، هغه به په هغې کښې اوسيدله. يوه شپه داسې اوشول چې زه په خپله کمره کښې اوده ووم، ناڅاپه چا دروازه اوډبوله. ما ترې پوښتنه اوکړه: څوک ئې؟ دروازه ډبوونکې يوه زنانه وه، کله چې هغې خپل نوم واخستلو نو ما په حيرانتيا سره پوښتنه اوکړه: زما خور؟ جواب راغے، آو! ستا خور. د دې اوريدو سره ما زر دروازه بيرته کړه، نن 10 کاله پس زما خور زما کمرے ته راننوتله، د هغې ذهني توازن ښه شو؟ ازميښت ختم شو؟ په دې باره کښې زما خور اووئيل: زه اوده ووم، په خوب کښې ما ته چا اووئيل: الله پاک ستا د نيکه په برکت سره ستا د والد حفاظت اوفرمائيلو او ستا د والد اسماعيل په برکت ستا حفاظت فرمائي. ستا نيکه او والد به د شيخين کريمين (يعنې د مسلمانانو د وړومبي او دويم خليفه) حضرت ابو بکر صديق او عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہُما سره محبت کولو، ځکه حضرت صديقِ اکبر او فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہُما د الله پاک په حضور کښې ستا سفارش اوکړو، اوس که تهٔ غواړې نو زه دُعا کووم، الله پاک به تا له شفا درکړي، که غواړې نو صبر اوکړه نو ستا د پاره جنت دے. ما اووئيل: زه خو جنت غواړم. باقي د الله پاک رحمت فراخه دے، که هغه اوغواړي نو په دُنيا کښې شفا او په آخرت کښې جنت دواړه به عطا کړي. په خوب کښې راتلونکي کس اووئيل: ستا نيکه او والد به د شيخين کريمين رَضِیَ اللہُ عَنْہُما سره

محبت کولو، د دې په برکت سره الله پاک تا له شِفا هم درکړه او ستا د پاره د جنت زيرے هم دے.[1]

| | |
|---|---|
| خُدا کے فَضْل سے میں ہوں گدا فاروقِ اعظم کا | خُدا اُن کا مُحَمَّد مصطفٰے فاروقِ اعظم کا |
| کرم اللہ کا ہر دَم نبی کی مجھ پہ رَحمت ہے | مجھے ہے دو جہاں میں آسرا فاروقِ اعظم کا |
| رہے تیری عطا سے یا خُدا! تیری عنایت سے | ہمارے ہاتھ میں دامن سدا فاروقِ اعظم کا[2] |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ہر صَحابیِ نبی! | جنَّتی جنَّتی | سب صَحابیات بھی! | جنَّتی جنَّتی |
| حضرتِ صدیق بھی! | جنَّتی جنَّتی | اور عُمرِ فاروق بھی! | جنَّتی جنَّتی[3] |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د فاروقِ اعظم د محبت فضيلت

اے عاشقانِ رَسُول! تاسو اوليدل د مسلمانانو د وړومبي او د دويم خليفه حضرت ابو بکر او عمر رضی اللہ عنہما د محبت څومره ځانګړي برکتونه دي. شيخ اسماعيل او د هغه والد به د حضرت ابو بکر او عمر رضی اللہ عنہما سره محبت کولو، د هغوئي برکتونه چې هغوئي ته کوم ميلاؤ شو هغه خو هسې هم ميلاؤ شو، د دې محبت اثر د هغوئي اولاد ته هم اورسيدلو او د دې محبت په برکت د هغوئي ناروغه لور ته شفا نصيب شوه. الله پاک دې زمونږه هم دا ځانګړي، برکتونو والا، رحمتونو والا، د مشکلاتو حل کولو او جنت ته بوتللو والا عظيمُ

[1]... مجموع رسائل ابن رجب، جلد:3، صفحه:101۔

[2]... وسائلِ بخشش، صفحه:526۔

[3]... وسائلِ فردوس، صفحه:53 ملتقطًا۔

الشان محبت را نصیب کړي.

بھٹک سکتا نہیں ہر گز کبھی وہ سیدھے رستے سے
خُدا کی خاص رحمت سے، مُحَمَّد کی عنایت سے

کرم جس بخت ور پر ہو گیا فاروقِ اعظم کا
جہنّم میں نہ جائے گا، گدا فاروقِ اعظم [1]

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ مختصر تَعارُف

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** حضرت عُمرِ فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ عظیم صحابئ رسول دے ✿ په دنيا کښې د هغوئي نوم مبارک **عمر** دے ✿ په آسمانونو کښې هغوئي د **فاروق** په نوم پيژندلے شي ✿ په آسماني کتاب تورات شريف کښې د هغوئي نوم **مَنْطِقُ الْحَقُّ** (يعني حق خبره کوونکے) دے ✿ په انجيل شريف کښې د هغوئي نوم **کافِي** دے ✿ او په جنّت کښې به د هغوئي نوم **اَقدس سِراج** وي.[2] ✿ هغوئي په 583 عيسوئ کښې، د مدينے د هجرت نه 41 کاله مخکښې په مکۀ پاک کښې دنيا ته تشريف راوړلو ✿ د خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د نبوت د اعلان په شپږم کال 614 عيسوئ کښې هغوئي اسلام قبول کړو ✿ رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د هغوئي د اسلام راوړلو د پاره دعا اوکړله، څکه هغوئي ته **مُرادِ رسول** هم وئيلے شي.[3]

رسول اللہ نے فاروق کو اللہ سے مانگا
چُنا اس پاک نے دیں کے لئے اس پاک ستھرے کو

عطاءِ رَبِّ سُبحاں حضرتِ فاروقِ اعظم ہیں
حبیبِ دِین داراں حضرتِ فاروقِ اعظم ہیں

---

[1] ... وسائل بخشش، صفحه:527۔

[2] ... الرياض النضرة، الباب الثانی، فی مناقب عمر بن خطاب، صفحه:235۔

[3] ... فيضان فاروق اعظم، جلد:1، صفحه:54۔

❁ د حضرت عمر رضی اللہ عنہ د اسلام راوړلو سره د اسلام په عزت او غلبه کښې زياتوالے اوشو، مسلمانانو ته حوصله ميلاؤ شوه ❁ د حضرت عمر رضی اللہ عنہ د اسلام راوړلو نه پس مسلمانانو په حرمِ پاک کښې ښکاره لمُونځ ادا کړو ❁ رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صلی اللہ علیہ والہ وسلم حضرت عمر رضی اللہ عنہ ته خپل وزير اوفرمائيلو ❁ د اسلام په ټولو اهمو منصوبو کښې حضرت عمر رضی اللہ عنہ د الله پاک د حبيب، حبيبِ لبيب صلی اللہ علیہ والہ وسلم خصوصي مُشير پاتې شو ❁ ټول ژوند ئې د حضور جانِ کائنات، فخر موجودات صلی اللہ علیہ والہ وسلم په خدمت کښې تير کړو ❁ په 13 هجرئ بمطابق 634 عيسوئ يعنې د 53 کالو په عمر مبارک کښې هغوئي د مسلمانانو دويم خليفه جوړ شول.

پسِ صدیق اکبر مصطفےٰ کے سب صحابہ میں | ہے بے شک سب سے اُونچا مرتبہ فاروقِ اعظم کا[1]

❁ په 24 هجرئ بمطابق 643 عيسوئ کښې په مسجدِ نبوي شريف کښې، د سحر د لمُونځ د جَمعې ورکولو په وخت، يو کافِر په خنجر سره په هغوئي باندې حمله اوکړه، چې د هغې په وجه هغوئي زخمي شول او په مدينهٔ پاک کښې ئې د شهادت مرتبه ترلاسه کړه. حضرت صُهيب رضی اللہ عنہ د هغوئي جنازه اوکړه او د حضور جانِ کائنات، فخرِ موجودات صلی اللہ علیہ والہ وسلم په خوا مبارک کښې خاورو ته اوسپارلے شو.[2]

حیاتی میں تو تھے ہی خدمتِ محبوبِ خالق میں | مزار اب بھی ہے قریبِ مصطفےٰ فاروقِ اعظم کا

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب     صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## فاروقِ اعظم رضی اللہ عنہ نيک مومن دے

سلطانُ المُفَسِّرين حضرت عبد الله بن عباس رضی اللہ عنہ فرمائي: يوه ورځ خوږ آقا، مکي

[1]... وسائِلِ بخشش، صفحه: 526۔

[2]... کرامات فاروقِ اعظم، صفحه: 65 خلاصةً۔

مدني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په څه معامله کښې فِکر مند وو، حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ عرض اوکړو: یا رسول الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! د فِکر څه خبره ده، الله پاک ستاسو سره دے، فرښتې ستاسو سره دي، حضرت جبرائیل، حضرت میکائیل عَلَیْہِمَا السَّلَام ستاسو سره دي، حضرت ابو بکر صدیق رَضِیَ اللہُ عَنْہُ ستاسو سره دي، زه هم په خدمت کښې حاضر یم، ټول مسلمانان ستاسو سره دي.

حضرت فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ چې کله د خپل محبوب آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم له تسلي ورکړه نو الله پاک د فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ په تصدیق کښې دا آیت مبارک نازل کړو او ارشاد اوشو: [1]

| | |
|---|---|
| فَاِنَّ اللّٰهَ هُوَ مَوْلٰىهُ وَ جِبْرِیْلُ وَ صَالِحُ الْمُؤْمِنِیْنَۚ (پاره28، سورة التحریم:4) | مفهوم ترجَمهٔ کنزُ العرفان: نو بیشکه الله پخپله د هغوئي مددګار دے او جبریل او نیک ایمان والا. |

امام جلال الدین سیوطي رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ د دې آیت په تفسیر کښې فرمائي: صَالِحُ الْمُؤْمِنِیْنَ اَبُوْبَکْرٍ وَّعُمَرَ یعنې په دې آیت کښې د نیک مؤمِن نه مُراد ابو بکر صدیق او عمر فاروق اعظم (رَضِیَ اللہُ عَنْہُمَا) دي.[2]

عمر کافی نبی کو حَسْبُكَ الله سے یہ ثابت ہے | ہے شاہد جن پہ قرآں حضرت فاروق اعظم ہیں

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

---

1 ... مُسلِم، کتابُ: الطّلاق، باب: فِي الْاِیْلاء، صفحه:563، حدیث:1479۔

2 ... تفسیر دُرّمنثور، پاره:28، التحریم، زیرِ آیت:4، جلد:8، صفحه:223۔

# د فاروقِ اعظم د پاره بخښنه او لوئے ثواب

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! په سيپاره 26، سورۀ حُجُرات دويم آيت کښې مسلمانانو ته حکم اوکړے شو چې د خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په پاکه بارګاه کښې چې کله څه عرض کول وي نو د دې خبرې دې خاص خيال اوساتلے شي چې د چا آواز هيڅ کله هم د هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د آواز مبارک نه اوچت نه شي، ګني نو ستاسو د اعمالو، ستاسو د لمُونځونو، ستاسو د روژو، ستاسو د حج بربادېدو انديښنه ده.

د حديثِ پاک مشهور کتاب ترمذي روايت دے، کله چې دا حکم نازل شو نو حضرت ابو بکر صديق، حضرت عمر فاروقِ اعظم او يو څو نورو صحابۀ کرامو عَلَیْہِمُ الرِّضْوَان په ځان باندې ډير احتياط لازم کړو، حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہ خو به دومره په قلاره خاموشه خبرے کولے چې کله کله به خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته د بيا پوښتنه کول پيښيدل چې څه وائې.[1] په دې باندې اوفرمائيلے شو:

اِنَّ الَّذِیْنَ یَغُضُّوْنَ اَصْوَاتَهُمْ عِنْدَ رَسُوْلِ اللّٰهِ اُولٰٓىٕكَ الَّذِیْنَ امْتَحَنَ اللّٰهُ قُلُوْبَهُمْ لِلتَّقْوٰىؕ لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ وَّ اَجْرٌ عَظِیْمٌ(۳)

(پاره28، سورة الحجرات: 3)

مفهوم ترجَمهٔ کنزُ العرفان: بيشکه کوم خلق چې د الله او د رسول خوا ته خپل آوازونه لاندې [ټيټ] ساتي هم دغه خلق دي د کومو زړونه چې الله د پرهيزګارئ د پاره ټاکلي دي، د دوئي د پاره بخښنه او لوئے ثواب دے.

هغه صحابۀ کرام عَلَیْہِمُ الرِّضْوَان کومو چې به په بارګاهِ رسالت کښې خپل آوازونه ټيټ ساتل، خاص طور حضرت ابو بکر صديق رَضِیَ اللہُ عَنْہ او حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہ د دوئي

[1] ... ترمذی، کتاب:تفسیر القرآن، باب:من سورة الحجرات، صفحه:753، حديث:3266۔

متعلق په دې آيت مبارک کښې اووئيل شو چې الله پاک د دوئي زړونه د تقوٰی او پرهيزګارئ د پاره تاکلي دي، د دوئي د پاره په آخرت کښې بخښنه او لوئے ثواب دے.[1]

سُبْحٰنَ الله! معلومه شوه چې د حضرت ابو بکر صديق او حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُمَا بخښنه يقيني ده، دوئي قطعي يقيني جنتيان دي چې الله پاک په دې آيت مبارک کښې د دوئي د بخښنې او د دوئي د لوئے ثواب اعلان فرمائيلے دے.

وہ دسوں جن کو جنت کا مژدہ مِلا | اس مبارک جماعت پہ لاکھوں سلام[2]

**وضاحت:** يعنې هغه 10 خوش قسمته صحابۀ کرام عَلَيهِمُ الرِّضوَان کومو له چې حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په دنيا کښې د جنت زيرے ورکړے دے په هغه برکتي ډله باندې دې ډير ډير سلامونه وي.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د شيرِ خُدا رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ يو ښکلے آرمان

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** مولائے کائنات، مولٰی علي، شيرِ خُدا رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د ډيرې اوچتې مرتبے صحابي دے، د امام حسن او حُسين رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُمَا والدِ محترم هم دے، د مسلمانانو څلورم خليفه هم دے، د هغوئي د شان او عظمت نه هر څوک خبر دي. راځئ! د مولٰی علي شيرِ خُدا رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ يو ښکلے آرمان اورو:

مولٰی علي شيرِ خُدا رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمائي: داسې اعمال نامه د کومې سره چې زه د قيامت په

[1]… تفسير جلالين مع حاشيه صاوی، پاره:26، الحجرات، زيرِ آيت:3و4، جز:5، جلد:3، صفحه:323۔

[2]… حدائقِ بخشش، صفحه:311۔

ورځ د الله پاک په حضور کښې حاضریدل غواړم، داسې اعمال نامه د مسلمانانو د دویم خلیفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ ده.[1]

الله! الله! **خوږو او محترمو اسلامي ورونو!** یقیناً حضرت عَلِـیُّ الْمُرتَضٰی شیرِ خُدا رَضِیَ اللہُ عَنْہُ پخپله هم ډیرې اوچتې مرتبې والا دے، د هغوئي پاک سیرت، د هغوئي کردار، د هغوئي اخلاق او عادتونه، عبادتونه وغیره هم څه کم نه دي، هغوئي هم ډیر کمال والا دے خو هر کمال والا د ډیر کمال والا په لور رغبت ساتي، یقیناً د مولٰی علي شیرِ خُدا رَضِیَ اللہُ عَنْہُ دا فرمان زمونږ د تعلیم د پاره دے، تاسو د دې نه اندازه اولګوئ! د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ سیرت، د هغوئي کردار څومره عظیم الشان دے.

دا **یاد ساتئ** چې په اعمال نامه کښې د انسان هر وړوکے غټ عمل درج وي، لکه چې مولٰی علي شیرِ خُدا رَضِیَ اللہُ عَنْہُ فرمائي چې هر د وړوکي نه وړوکے او د غټ نه غټ عمل کوم چې د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ په اعمال نامه کښې لیکلے شوے دے، زه غواړم چې بالکل هم هغه شان اعمال زما په اعمال نامه کښې هم درج وي.

## د فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ یو څو اعلٰـی صفتونه

## (1) فاروقِ اعظم او په دین کښې پوخ والے

د حدیثِ پاک په مشهورو کتابونو بُخاري او مسلم شریف کښې حدیثِ پاک دے: یوه ورځ د الله پاک خوږ او آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: زه اوده

[1] ...مستدرک، کتاب معرفة الصحابه رضی الله عنهم، استئذان عمر...الخ، جلد:4، صفحه:49، حدیث:4579 خلاصةً

ووم، ما خوب اوليدلو (ياد ساتئ! د خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰـی صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم صرف سترګې اوده وي، زړه ئې نه اوده کيږي او د نبيانو خوبونه رښتيني وي، خير! هغوئي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم څه خوب اوليدلو؟ اوئې فرمائيل:) ما ته خلق وړاندې کړے شول، هر يو قميص اغوستے وو، د چا قميص د سينې پورې وو، د چا د ډې نه ښکته (او په يو راويت کښې دي: د چا قميص د سينې پورې وو، د چا تر نامه پورې وو، د چا د زنګونانو پورې، د چا تر نيمو پنډو پورې[1])، بيا ما عمر فاروقِ اعظم (رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ) اوليدلو، د هغه قميص د هغه د ښپو نه هم ښکته وو چې په تللو کښې به ئې راښکلو. صحابهٔ کرامو عَلَيهِمُ الرِّضوَان پوښتنه اوکړه: يا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم تاسو د دې څه تعبير اوفرمائيلو؟ اوئې فرمائيل: دِين.[2]

يعنې هغه خلق د کومو قميص چې تر سينې پورې وو، هغه کمزوري دِين والا وو، د چا قميص چې تر نامې پورې وو، هغوئي لږ شان مضبوط دِين والا وو، د چا قميص چې د زنګونانو پورې وو، هغوئي لږ نور کامِل دِين والا وو، د چا چې تر نيمو پنډو پورې وو، هغوئي په دِين کښې لږ زيات مضبوط وو او په دې ښودلے شوو خلقو کښې د ټولو نه پوخ دِين والا حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ وو چې د هغوئي قميص د ښپو نه ښکته ځانګيدو.

د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الاُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ د دې حديثِ پاک لاندې فرمائي: غالِب دا دي چې (په خوب کښې خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته) په دې وړاندې شوؤ [کَسانو] کښې حضرت ابو بکر صديق رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ

---

[1] ... الصواعق المحرقة، باب الخامس، فصل الرابع، صفحه:119، حديث:41۔

[2] ... بخاری، کتاب بدء الایمان، باب تفاضل اهل الایمان فی الاعمال، صفحه:76، حدیث:23۔

نه وو (که چرې وے نو د هغوئي قميص به د فاروقِ اعظم رضی اللہ عنہ نه هم زيات اوګرېد ښودلے کيدلو چې هغوئي رضی اللہ عنہ د فاروقِ اعظم رضی اللہ عنہ نه زيات افضل، زيات پوخ دِين او ايمان والا دي).[1]

## د دِين په معامله کښې د ټولو نه سخت صحابي

سُبْحٰنَ اللّٰه! خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د دې حديثِ پاک نه معلومه شوه چې حضرت عمر فاروقِ اعظم رضی اللہ عنہ په دِين کښې ډير پوخ او ډير مضبوط ايمان والا دے. په يو حديثِ پاک کښې دي، رسولِ رحمت، شفيعِ اُمَّت صَلَّى الله عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: اَشَدُّهُمْ فِيْ دِيْنِ اللهِ عُمَرُ يعنې په ديني معامله کښې د ټولو صحابهٔ (رضی اللہ عنہم) نه زيات سختي کوونکے عمر (رضی اللہ عنہ) دے.[2] په يو روايت کښې ئي اوفرمائيل: اَشَدُّ اُمَّتِیْ فِیْ اَمْرِ اللهِ عُمَر يعنې د الله پاک د حکمونو په معامله کښې زما د ټولو نه پوخ اُمَّتي عمر فاروق دے.[3]

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! معلومه شوه: حضرت عمر فاروقِ اعظم رضی اللہ عنہ د دين په حکمونو باندې په ډيرې سختئ سره عمل کوونکے وو، هسې خو ټول صحابهٔ کرام عليهم الرضوان هم په دين باندې په مضبوطياسره عمل کوونکي دي خو د حضرت عمر فاروقِ اعظم رضی اللہ عنہ دا مضبوطيا او پوخ والے تر دومره حده پورې رسيدلے وو چې دا د هغوئي خصوصيت جوړ شو، تر دې چې حضور داتا ګنج بخش علي هجويري رحمۃ اللہ علیہ فرمائي: صوفيائے کرام (يعنې د الله پاک نيک بندګان، اوليائے کرام رحمۃ اللہ علیہم) د دِين په

---

[1]... مرآة المناجيح، جلد:8، صفحه:363 بتغير قليل۔

[2]... ابنِ ماجه، المقدمه، فضائل خباب، صفحه:38، حديث:154۔

[3]... الطبقات الكبرىٰ لابن سعد، الطبقة الاولىٰ، ذكر استخلاف عمر، جلد:3، صفحه:220۔

معامله کښېږ ډېر سخت وي (مثلاً فرائِض او واجبات خو ډېره غټه خبره ده مُستحبات يعني د نيکۍ هغه کارونه د کومو په پرېښودو کښې چې ګناه نه وي، هغه هم بالکل نه پرېږدي، په هغې باندې هم په مضبوطيا سره په استقامت باندې عمل کوي، صوفيائے کرامو په دِين کښې داسې سخت کيدل) د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ نه زده کړي دي.[1]

## (2) د فاروقِ اعظم د خوښې عبادتونه

حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ فرمائي: د 4 کارونوکولو په وخت زه خوند محسوسووم: (1) د الله پاک د فرائضو ادا کولو په وخت (2) د الله پاک د حرام کړے شوو خبرو نه د بچ کيدو په وخت (3) د ثواب ګټلو د پاره د نيکۍ د دعوت په وخت (4) او د الله پاک د وېرې په سبب خلق د بدو نه د منع کولو په وخت.[2]

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** معلومه شوه: دا د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ صفتونه دي چې هغوئي په ديني معامله کښې لږه شان کوتاهي هم نه برداشت کوله، هغوئي به د دين په حکمونو باندې په مضبوطيا سره عمل کولو، د الله پاک د منع کړے شوو خبرو نه به بچ کيدلو، د نيکۍ دعوت به ئې ورکولو او د بدو نه به ئې منع فرمائيله.

افسوس! نن سبا معاملے ډېرې خرابې شوې دي ❀ د دين په حکمونو باندې په مضبوطيا سره عمل کول خو ډېره غټه خبره ده...!! ديني حکمونه څه دي؟ اوس خو ډېرو کمو خلقو ته د دې معلومات وي، هسې خو مونږ له ډېر څه راځي ❀ ډېرې لوئے لوئے ناولے لولو ❀ اخبار هره ورځ لولو ❀ د موبائلو راسره هم معلومات وي ❀ د ګاډي کوم

---

[1] ... کَشْفُ الْمَحْجُوب، ذِکْرِ فاروقِ اعظم، صفحه:106 بتغير قليل۔

[2] ... کتاب اللمع، کتاب الصحاب، ذکر عمر بن الخطاب، صفحه:175۔

یو نوے ماډل راغلے دے ❁ نن سبا د جامو کوم یو نوے فیشن روان دے ❁ نوې ټیکنالوجي ❁ د ګوټ ګوټ خبرونه، هر څه راته معلوم وي، آو! که پته راته نه وي نو د دې پته راته نه وي چې الله پاک مونږ ته څه څه حکمونه کړي دي، خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ما ته د ژوند تیرولو څه طریقه ښودلې ده.

ښکاره خبره ده کله چې د دِین علم نه وي نو په دې باندې به عمل څنګه کیږي؟ اے عاشقانِ رَسُول! مونږ له ویریدل پکار دي، د الله پاک د عذاب نه، د هغه د ګرفت نه ویریدل پکار دي، د دِین په معامله کښې د سستئ نه کار اخستل، ځان په ګناهونو کښې اخته کول، زمونږ د سترګو په وړاندې د دِین ښکاره مخالَفَت کیږي، د دې پرواه نه کول، دا ډیره نقصان رسوونکې باطني بیماري ده، دې ته تَسَاهُلْ فِی الله (یعنې د دِین په معامله کښې سستي کول) وئیلے شي.

افسوس! دا بیماري زمونږه په معاشره کښې ډیره خوره شوې ده ❁ څوي لمُونځ نه کوي، د پلار سره ئې هیڅ غم نه وي ❁ په کور کښې سندرے باجے غږیږي ❁ فلمونه کتلے کیږي ❁ د الله پاک نافرماني کیږي خو د کور مشر پرې هډو غوږ نه ګروي (یعنې هغه ئې بالکل پرواه نه کوي). دا تَسَاهُلْ فِی الله دے او ډیره نقصان رسوونکې باطني بیماري ده.

## نیک کَس هم په عذاب کښې

د مدینے جانان، د دواړو جهانونو سردار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: الله پاک حضرت جبریلِ امین عَلَیْہِ السَّلَام ته حکم اوکړو چې فلانکے ښار د هغه اوسیدونکو سره نیست و نابود کړه! حضرت جبریلِ امین عَلَیْہِ السَّلَام عرض اوکړو: اے رَبِّ کریمه! په دغه خلقو

کښېږي ستا يو فلانکے نيک بنده هم دے کوم چې د سترګو د رپ په مقدار هم ستا نافرماني نه ده کړې. الله پاک اوفرمائيل: اَقْلِبْهَا عَلَيْهِمْ فَاِنَّ وَجْهَهٗ لَمْ يَتَمَعَّرْ فِيَّ سَاعَةً قَطُّ يعنې ښار په هغوئي باندې اُلټا کړه ځکه چې زما د نافرمانو کتلو سره د دې نيک ګس د مخ رنګ چرې هم بدل نه شو (يعني هغه ته زما د نافرمانۍ ليدلو سره چرې هم بد اونه لګيدل).[1]

## د ګناه ليدلو سره پريشانه کيدل د ايمان تقاضا ده

د دې حديثِ پاک لاندې په مِرآةُ المناجيح کښې دي: د دې حديثِ شريف نه دا واضحه کيږي چې چرته د نيکو کولو او د ګناهونو نه بچ کيدل ضروري دي، هلته د معاشرتي خرابۍ په وجه پريشانه کيدل هم د ايمان تقاضا ده. کوم خلق چې د الله پاک د رضا په خاطر د معاشرتي بدۍ د ختمولو کوشش نه کوي، د هغوئي په تقوٰی څه...!! د خپلې اِصلاح سره سره معاشره د ګناهونو نه د پاك کولو کوشش کول هم زمونږ د ټولو ذمه واري ده.[2]

## ګناه په زړه کښې بده اوګڼه...!!

د صحابئ رسول حضرت ابو سعيد خُدري رَضِیَ اللہُ عَنْہُ نه روايت دے، چې رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: په تاسو کښې چې څوک څه ګناه اووينې نو هغه له پکار دي چې هغه ګناه په خپل لاس باندې بدله کړي او څوک چې په خپل لاس د بدلولو وَس نه لري هغه له پکار دي چې په خپله ژبه ئې بدله کړي او څوک چې په

---

[1]... شُعَبُ الايمان، باب فی الامر بالمعروف و النهی عن المنکر، جلد:6، صفحه:97، حديث:7595۔

[2]... مرآة المناجيح، جلد:6، صفحه:545 بتغير قليل۔

خپله ژبه هم د بدلولو وَس نه لري هغه له پکار دي چې په خپل زړه کښې ئې بده اوګڼي او دا د کمزوري ترين ايمان نښه ده.[1]

## آيا مونږ ئې په زړه کښې بده ګڼو؟

د دې حديثِ شريف ليکلو نه پس شيخِ طريقت، امير اهلسنت دَامَتۡ بَرَکَاتُہُمُ الۡعَالِیَہ ليکي: ❁ د خپل ضمير نه پوښتنه اوکړئ چې څوک په ګناه باندې د ليدلو سره په لاس يا ژبه په منع کولو کښې د ځان بے وسه موندلو شکل کښې تاسو په زړه کښې بده اوګڼله؟ ډير افسوس! ❁ د ماشومانو مور چې په اخلي پخلي کښې لږه ليټ شي ❁ په خوراک کښې مالګه لږه زياته شي ❁ ځوي د سکول نه چهټي اوکړي نو ضرور بده لګي خو کور والا هره ورځ پينځه واړه لمُونځونه قضا کوي نو تندے به چرې هم نه تريوِ کيږي، د هغوئي د پوهه کولو کوشش به نه کيږي حالانکه که بچے د 10 کالو شي او لمُونځ نه کوي نو په پلار واجب دي چې په هغه باندې سختي اوکړي. ګني نو ګنهګار او د اور د عذاب حقدار به وي. ❁ تاسو اووائې! آيا ستاسو دا طريقه صحيح ده؟ ❁ تاسو سوچ اوکړئ! سندرے غږيږي، بيشکه د منع کولو وَس نشته خو آيا دا ستاسو په زړه کښې د ازغي په رنګ ننوځي؟ آيا دا تاسو بده محسوسوئ؟ نۀ جي، ځکه چې په خپل موبائل کښې هم خو مَعَاذَ الله! ميوزيکل ټيون موجود دے ❁ 2 کَسان په کوڅه کښې کنزلې کوي، بد اولګيدل؟ نه جي، ولې؟ ځکه چې کله نا کله د خپلې خُلې نه هم مَعَاذَالله! کنزلې ووځي ❁ فلانکي تاسو ته دروغ اووئيل، په تاسو بد اولګيدل؟ آو جي، ولې؟ ځکه چې زما ذاتي نقصان اوشو، باقي پاتې د الله پاک د رضا د پاره به بد ولې لګي چې پخپله د خپلې

---

[1]... مسلم، كتاب الايمان، باب بيان كون النهى... الخ، صفحه:42، حديث:49۔

خُلېږ نه هم مَعاذ الله! دروغ ووځي. دا مثالونه صرف د درد رابیدارولو د پاره دي، ګڼې نو د ډیرو خلقو حالت دا دے چې په خپل فون کښې ئې میوزیکل ټیون نشته، د کنزلو او دروغو عادت نه لري، بیا ئې هم په زړه کښې د بد ګڼلو ذهن نشته. که د الله پاک د رضا د پاره په صحیح معنو کښې په زړه کښې د ګناه بدې ګڼلو سوچ جوړ شي، د خفګان عادت جوړ شي نو بیا به د معاشرې اصلاح اوشي ځکه چې کله مونږه د ګناهونو په زړه کښې په بد ګڼلو کښې ځان پوخ کړو، نو د نورو پوهه کول به هم شروع کړو او اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيْم! په هر لور به د سنتو سپرلے راشي.[1]

الله پاک دې زمونږ په حال باندې رحم اوکړي او د حضرت عمر فاروقِ اعظم رضی اللہ عنہ په وسیله دې زمونږ هم دا سوچ، دا فِکر، دا ښکلې ښکلې جذبه نصیب کړي چې مونږ هم په دیني معامله کښې بالکل کوتاهي نه کوو او څوک چې په دین کښې په کوتاهۍ اووینو نو فوراً د موقعې په مناسبت سره، په ښکلي او د حکمت نه په ډک انداز کښې دعوت ورکوو.

دے دُھن مجھ کو نیکی کی دعوت کی مولیٰ | مچا دوں میں دھوم اُن کی سنّت کی مولیٰ

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## (3): د فاروقِ اعظم لوړ ظرف

**خوږو او محترمو اسلامي ورونو!** د مسلمانانو د دویم خلیفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رضی اللہ عنہ په پاکو صفتونو کښې یو ښکلے صفت دا هم دے چې هغوئي د لوړ ظرف مالک

---

[1] ... نیکی کی دعوت، صفحه: 466 تغیر قلیل۔

وو، چا به چې د هغوئي ښه خبرې ته پام راګرځولو نو هغوئي به هم خوشحالیدل او دا خبره به ئې قبلوله هم. د هغوئي فرمانِ عالي شان دے: اَحَبُّ النَّاسِ اِلَیَّ مَنْ رَّفَعَ اِلَیَّ عُیُوْبِیْ یعنې زما په نزد د ټولو نه زیات خوښ هغه ګس دے کوم چې ما ته خپل عیب اوښائي.[1]

## زنانه صحیح اووئیل

یوه ځل یوې زنانه په ګڼو خلقو کښې د هغوئي د رائے سره اختلاف اوکړو او د هغوئي په مقابله کښې ئې خپله رائے ورکړه، هغوئي په ډیر تَحَمُّل او غور سره د هغې خبره واوریدله، بیا ئې د هغې د رائے قبلوله کړه او اوئې فرمائیل: اِمْرَاَۃٌ اَصَابَتْ وَ رَجُلٌ اَخْطَاَ یعنې زنانه صحیح اووئیل او یو نارینه خطا اوکړه.[2]

## امیرِ اهلسنت د سیرتِ فاروقي مظهر

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! شیخِ طریقت، امیرِ اهلسنت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ د سیرتِ فاروقي مظهر دے، هغوئي د خپلو مریدانو او د ټولو عاشقانو په مخکښې خپل ذات د یو پرانستي کتاب په شان ساتلے دے، هغوئي هم ټولو له د دې خبرې اجازت ورکړے دے که زما په ذات کښې د شریعت خلاف څه خبره اووینئ نو فوراً زما اصلاح اوکړئ، تر دې چې هغوئي کله مدني مذاکره (د سوال او جواب سلسله) فرمائي نو د هغې په شروع کښې هم دا وائي: **تاسو پوښتنې کوئ، چې زه د هرې پوښتنې جواب درکړے شم دا ضروري نه ده، که هیره مې وي نو فوراً زما اصلاح اوکړئ، ما به تاسو په خپل مؤقف باندې بغیر د څه وجې کلک نه وینئ بلکه**

---

[1] ...الطبقات الکبریٰ لابن سعد، الطبقة الاولیٰ، ذکر استخلاف عمر، جلد:3، صفحه:222۔

[2] ...کنز العمال، کتاب النکاح، الصداق، جز:16، جلد:8، صفحه:226، حدیث:45792 ملتقطًا۔

**د منني کولو سره به مې په رجوع کولو بیامومئ.** د هغوئي د دې اعلٰـی ظرف په وجه نن په ټوله دنیا کښې د هغوئي په لکونو مُریدان دي کوم چې د هغوئي په ارشاداتو باندې د زړه د کومې نه عمل کوي، الله پاک د خلقو په زړونو کښې د هغوئي داسې محبت اچولے دے چې ډیر خلق د هغوئي د لیدلو بغیر د هغوئي مریدان جوړیږي.

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! مونږ له هم دا انداز خپلول پکار دي، د اصلاح په مُعامَله کښې اوپن ډور [یعني د بیرته زړه] پالیسي ساتل پکار ده، یعني که څوک هم وړوکے یا غټ زمونږه اصلاح کول غواړي نو د هغوئي د پاره دروازې بیرته ساتل پکار دي، اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیم! د دې به ډیرې فائدے وي، کردار به مو ښه کیږي، اصلاح به مو کیږي او د دې سره سره به د دې انداز په برکت سره د خلقو په زړونو کښې محبت هم زیات شي، عزت به هم زیات شي.

الله پاک دې مونږ له د عمل کولو توفیق را کړي.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ واٰلِهٖ وَسَلَّم

## (4): فاروقِ اعظم او د قرآنِ کریم سره محبت

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ یو ښکلے صفت دا هم دے چې هغوئي به د قرآنِ کریم سره محبت کولو، د قرآنِ کریم تلاوت به ئې ښه په شوق کولو، ډیر ځل خو به د تلاوت کولو په وخت د هغوئي حالت بدلیدلو او هغوئي به د الله پاک د ویرې نه په سلګو سلګو ژړل. حضرت عبد الله بن شَدَّاد رَضِیَ اللہُ عَنْہُ فرمائي: یوه ځل حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د سحر د لمُونځ جَمعه ورکوله، هغوئي د سُورۂ یُوسُف

تلاوت شروع کړو، په لوستلو لوستلو چې کله هغوئي د سورۀ یوسف آیت نمبر 84 ته را اورسیدلو، الله پاک ارشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَ ابْیَضَّتْ عَیْنٰهُ مِنَ الْحُزْنِ فَهُوَ كَظِیْمٌ(۸۴) (پاره12، سوره یوسف:84) | مفهوم ترجَمۂ کنزُ العرفان: او د یعقوب سترګې د غم نه سپینې شولې نو هغه (خپل) غم برداشت کولو. |

کله چې حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ دا آیت مبارک اولوستلو نو هغوئي په ژړا شول، ژړل ئې، ژړل ئې، بیا ئې ډیر وخت پس رکوع اوفرمائیله.[1]

## د ژړا په سبب غریو اونیولو

دغه شان د حضرت حَسن رَضِیَ اللہُ عَنْہُ نه روایت دے چې یو ځل امیرُ المُؤمِنین حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د سورۀ طُور 7 او 8 نمبر آیت تلاوت کړو:

| | |
|---|---|
| اِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ لَوَاقِعٌ(۷) مَّا لَهٗ مِنْ دَافِعٍ(۸) (پاره27، سورۀ طور: 7 تا 8) | مفهوم ترجَمۂ کنزُ العرفان: بیشکه ستا د رَبّ عذاب ضرور واقع کیدونکے دے، د دې څوک لرې کولو والا نشته. |

د دې آیتونو لوستلو سره په هغوئي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ باندې د الله پاک ویره غالبه شوه او داسې په ژړا شو، داسې په ژړا شو چې په ژړا ژړا هغوئي غریو اونیولو او تر 20 ورځو پورې د هغوئي هم دغه حالت وو.[2]

| | |
|---|---|
| ترے خوف سے تیرے ڈر سے ہمیشہ | میں تھر تھر رہوں کانپتا یا اِلٰہی[1] |

---

[1] … کنزالعمال، کتاب:الفضائل، جزء:12، جلد:6، صفحه:264، حدیث:35828۔

[2] … کنزالعمال، کتاب الفضائل، فضائل الفاروق، جز:12، جلد:6، صفحه:264، حدیث:35827۔

اے عاشقانِ رَسُول! دا دے د اسلام دویم خلیفه، امیرُ المُؤمنین حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ ...! د هغوئي د قرآنِ کریم سره ډېره محبت وو، هغوئي به په ډېره محبت او ډېره مینې سره د قرآنِ کریم په معني او مفهوم کښې ډوبیدلو او د الله پاک د ویرې سره به ئې د قرآنِ کریم تلاوت کولو، مونږ هم اَلْحَمْدُلِلّٰه! مسلمانان یو ❀ چې مونږه هم لږ په خپل ګریوان کښې اوګورو ❀ هر څوک په خپله باره کښې غور اوکړي چې زما په زړه کښې د قرآنِ کریم ډېره محبت دے؟ ❀ دا زمونږ حق جوړیږي چې مونږه د خپل ځان نه پوښتنه اوکړو چې ډېره ورځې شوې دي په قرآنِ کریم کښې د تلاوت کولو، ❀ دا قرآن دا د الله پاک، پاک کلام، کوم چې الله پاک زمونږ د هدایت د پاره نازل کړو ❀ دا قرآن کوم چې شِفا ده ❀ دا قرآن کوم چې د جسماني بیمارو د پاره هم شِفا ده ❀ کوم چې د باطني بیمارو د پاره هم شِفا ده ❀ دا قرآن په کوم کښې چې زمونږه رَبّ زمونږ د پاره د ژوند اُصول بیان فرمائیلي دي، مونږ دا قرآنِ کریم، د الله پاک دا پاک کلام ډېره لولو، په دې باندې د پوهیدو ډېره کوشش کوو.

❀ که چرې کله موټر سائیکل چلوئ، په موبائل رنګ راشي، د چا مسیج راشي نو په زړه کښې ترَک اوشي ❀ که د لمُونځ په وخت کښې په موبائل رنګ راشي یا رپ ریے محسوس شي نو د لمُونځ نه پام بدل شي چې پته نه لګي د چا مسیج به وي، پته نه لګي چې څه به ئې وئیلي وي، پته نه لګي چې د چا فون را روان دے، د فارغیدو سره فوراً موبائل ګورو ❀ په لمُونځ کښې که چرې رنګ راشي نو بس د سلام ګرځیدو انتظار وي، بعضې خو تر دُعا پورې هم صبر نه کوي، ورومبے موبائل ګوري، غور اوکړئ! ❀

[1]...وسائل بخشش، صفحه:105۔

دا قرآن زمونږ د رَبّ کلام دے ❁ په دې کښې زمونږ د پاره هدایت دے ❁ په دې کښې زمونږ د پاره رڼا ده ❁ په دې کښې زمونږ د پاره نُور دے ❁ په دې کښې زمونږ د پاره د مسائلو حل دے ❁ په دې کښې زمونږ د پریشانو حل دے ❁ په دې کښې زمونږ د معاشي معاملاتو حل دے ❁ په دې کښې کور د جنت په شان د جوړولو اصول دي ❁ په دې کښې د ژوند ښکلي کولو د طریقو بیان دے، آه! افسوس! د دې کلام د لوستلو د پاره زمونږه زړه نه بے قراره کیږي، په ده د پوهیدو د پاره مونږ نه بے تابه کیږو.

❁ کاش! چې مونږ ته هم د قرآنِ کریم محبت نصیب شي ❁ کاش! مونږه هم د قرآنِ کریم تلاوت کولو والا جوړ شو ❁ کاش! مونږه هم قرآنِ کریم پوهیدونکي جوړ شو ❁ کاش! چې د فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ برکت را نصیب شي ❁ کاش! زمونږه ژوند د قرآنِ کریم آئینه دار شي.

## قرآنِ کریم به مو جنت ته بوځي

حضرت عبد الله بن مسعود رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمائي: بیشکه قرآنِ کریم شفاعت کوونکے دے او د ده شفاعت به قبلولے هم شي بس څوک چې قرآنِ کریم خپل امام او پیشوا جوړ کړي، قرآنِ کریم به هغه جنت ته بوځي او څوک چې قرآنِ کریم ته شا کړي، قرآنِ کریم به هغه دوزخ ته دیکه کړي.[1]

گَر تُو مِی خَواهِی مُسَلْمَاں زِیْسْتَن | نَیْسْت مُمْکِنْ جُزْبَه قُرْآں زِیْسْتَن

[1] ... مُصَنَّف عَبْدُ الرَّزَاق، باب: تعلیم القران، جلد:3، صفحه:229، حدیث:6030۔

ترجَمه: که د مسلمان جوړېدو سره ژوند تیرول غواړې نو بغیر د قرآن نه هیڅ کله هم داسې ممکن نه ده.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## (5): فاروقِ اعظم او د ذکرُ الله زیاتوالے

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ په ښکلو صفتونو کښې یو صفت دا هم دے چې هغوئي به د الله پاک ذِکر ډیر زیات کولو. حضرت امام جعفر صادق رَضِیَ اللہُ عَنْہُ فرمائي: كَانَ اَكْثَرُ كَلَامِ عُمَرَ اَللهُ اَكْبَر یعني د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ په ژبه به اکثر د اَللهُ اَكْبَر! اَللهُ اَكْبَر! ذِکر جاري وو.[1]

## خپل اندامونه کار آمد جوړ کړئ!

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! مونږ له پکار دي چې د الله پاک ډیر زیات ذکر کوو. الله پاک په قرآنِ کریم کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَلِلّٰهِ الْاَسْمَآءُ الْحُسْنٰى فَادْعُوْهُ بِهَا ۪ (پاره9، سورة الاعراف: 180) | مفهوم ترجَمهٔ کنزُ العرفان: او ډیر ښه نومونه د الله دي نو هغه په هُغه نومونو سره را اوبلئ. |

د قرآنِ کریم مشهور مُفَسِّر، حَکِیمُ الأُمّت مفتي احمد یار خان نعیمي رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْه فرمائي: په دې آیت مبارک کښې الله پاک مونږ ته حکم اوکړو چې اے مسلمانانو! ❀ تاسو خپل زړه ❀ خپلې سترګې ❀ خپل غوږونه ❀ خپل اندامونه کار آمد جوړ کړئ! او دا به

[1] ...رياض النضرة، الباب الثانى فى مناقب عمر بن الخطاب، جز:2، الفصل التاسع، ذكر تعبده، صفحه:311

داسې کیږي چې ❀ په زړه کښې د الله پاک یاد کښېنوئ! ❀ د هغه په ښکلو ښکلو، ښه ښه، عزت والا، عظمت والا نومونو باندې ځان پوهه کړئ! ❀ په غوږونو د هغه نومونه اورئ ❀ په دغه نومونو سره الله پاک رابلئ! ❀ په دغه نومونو سره د الله پاک ذِکر کوئ! د دې په برکت سره به ستاسو اندامونه نه بے کاره کیږي بلکه کار آمد به شي.[1]

کاش لب پر مرے رہے جاری | ذِکر آٹھوں پہر ترا یارَبّ!
چشمِ تَر اَور قلبِ مضطر دے | اپنی الفت کی مَے پِلا یارَبّ!
نفس و شیطان ہو گئے غالِب | ان کے چنگل سے تُو چھڑا یارَبّ![2]

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## (6): فاروقِ اعظم به د الله پاک د ویرې خبرې اوریدلې

د مسلمانانو د دویم خلیفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ یو ښکلے صفت دا هم دے چې هغوئي د الله پاک نه ویرې والا وو ❀ د الله پاک نه ویریدل ❀ اوښکې توئیول ❀ د الله پاک نه د ویرې په سبب د ګناهونو نه بچ کیدل ❀ نیک کارونه کول ❀ د الله پاک نه د ویرې په سبب د بندګانو حقونه پوره کول ❀ د الله پاک د ویرې په سبب د خپلو اعمالو جاج اخستل د هغوئي د معمولاتو برخه وه ❀ او یوه خاص خبره چې هغوئي په زړه کښې د الله پاک د ویرې زیاتولو د پاره د الله پاک د ویرې والا خبرې اوریدلې. یو ځل هغوئي حضرت کعبُ الأحبار رَضِیَ اللہُ عَنْہُ ته اوفرمائیل: اے کعبه! مونږ ته د ویرې خبرې اوکړه! په دې باندې حضرت کعب رَضِیَ اللہُ عَنْہُ عرض اوکړو: اے امیرُ المُؤمِنین! که

---

[1]... تفسیرِ نعیمی، پارہ:9، الاعراف، زیرِ آیت:180، جلد:9، صفحه:386 خلاصةً۔

[2]... وسائلِ بخشش، صفحه:79 ملتقطًا۔

تاسو د قیامت په ورځ د 70 نبیانو د عمل برابر نیکۍ هم راوړئ نو د قیامت د حالاتو په لیدلو به خپل اعمال کم اوګڼئ.

دا ئې چې واوریدل نو حضرت عمر فاروقِ اعظم رضی اللہ عنہ سر ښکته کړو (او د آخرت په فِکر کښې شو،) لږ وخت پس ئې اوفرمائیل: اے کعبه! نور اووایې! حضرت کعب رضی اللہ عنہ اووئیل: اے امیرُ المُؤمنین! دوزخ دومره وحشتناک دے چې که د دوزخ نه د غوئې د پوزې همره حصه د مشرق په لور پرانستے شي نو په مغرب کښې به د موجود ګس دماغ د هغې د ګرمۍ په وجه د خوټکیدو سره اوبهیږي. دا ئې چې واوریدل نو حضرت عمر فاروقِ اعظم رضی اللہ عنہ بیا سر مبارک ښکته کړو (او د آخرت په فِکر کښې شو.)[1]

## کاش چې مونږ ته هم د الله پاک ویره نصیب شي

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! غور اوکړئ! د مسلمانانو دویم خلیفه، قطعي جنتي صحابي حضرت عمر فاروقِ اعظم رضی اللہ عنہ به د آخرت فِکر والا، د الله پاک د نه ویرې والا خبرې اوریدلې او ږخپله به ئې د فرمائش کولو سره اوریدلې، اوس مونږه هم لږ غور اوکړو! مونږ څه اوریدل خوښوو؟ ❁ دلته خلق د سندرو اوریدو شوق لري ❁ د مزاحیه ټیزونو اوریدو شوق لري ❁ مونږ د ټوقو ټقالو خبرې اورو ❁ د غفلت زیاتوونکې خبرے اورو ❁ د زړه زنګ کیدونکې خبرې اورو، آه! افسوس! ❁ زمونږه په معاشره کښې غیبت ډیر په شوق سره اوریدے شي ❁ د خپلو مسلمانانو وروڼو بد اوریدل را له خوند راکوي ❁ د ټولې دنیا خبرونه اوریدل مو خوښ وي. کاش! چې مونږ ته د حضرت عمر فاروقِ اعظم رضی اللہ عنہ فیضان را نصیب شي! کاش! مونږه هم ❁ فکرِ آخرت والا خبرې اورو ❁ د الله پاک نه ویریدونکې خبرې اورو ❁ نیکۍ زیاتوونکې

[1] … حلية الاولياء، كعب الاحبار، جلد:5، صفحه:404، رقم:7529 ملتقطًا

خبرې اورو ❀ نعتونه اورو ❀ تلاوت اورو ❀ د سنتو نه ډک بیانونه اورو ❀ د علمِ دِین خبرے اورو ❀ حدیثونه اورو، د دې په برکت به اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! غفلت لرې شي، د زړه نه به زنګ لرې شي، د ګناهونو نه به نفرت میلاؤ شي، د نیکو کولو رغبت به رانصیب شي او که الله پاک اوغواړي نو په نیک پرهیزګاره، ښه او باکرداره مسلمان جوړیدو کښې به کامیاب شو.

عمل کا ہو جذبہ عطا یاالٰہی!
گناہوں سے مجھ کو بچا یاالٰہی!
ہو اَخلاق اچّھا ہو کردار سُتھرا
مُجھے متّقی تُو بنا یا الٰہی![1]

## کتاب: فیضانِ فاروق اعظم اولولئ!

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! مونږ په دې لنډ وخت کښې د مسلمانانو د دویم خلیفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رضی اللہ عنہ د یو څو اعلٰـی صفتونو اوریدو سعادت حاصل کړو، الله پاک دې مونږ ته د دې پاکو صفتونو خپلولو توفیق رانصیب کړي! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! مکتبة المَدینه د حضرت عمر فاروقِ اعظم رضی اللہ عنہ په سیرت باندې یو ښکلے کتاب چاپ کړے دے، د کوم نوم چې فیضانِ فاروقِ اعظم دے. د 2 جلدونو ډیر ښکلے کتاب دے، په دې کښې د حضرت عمر فاروقِ اعظم رضی اللہ عنہ د پیدائش نه واخله تر د هغوئي د شهادت پورې په تفصیل سره د هغوئي سیرت بیان کړے شوے دے، دا کتاب ضرور ترلاسه کړئ! پخپله ئې هم اولولئ! کور والؤ، دوستانو او پیژندګلو خلقو ته هم د دې کتاب د لوستلو ترغیب ورکړئ!

دغه شان د شیخِ طریقت، امیر اهلسنت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه یوه مختصر رساله: کراماتِ فاروقِ اعظم ده. دا هم ډیره ښکلې او معلوماتي رساله ده، دا هم اولولئ! بلکه په کور کښې د دې

[1]... وسائل بخشش، 104102۔

رسالے نه درس کوئ! اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! ثواب به مو هم کیږي او ډیر زیات معلومات به هم حاصل شي. الله پاک دې مونږ له د عمل کولو توفیق راکړي.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## په 12 دیني کارونو کښې یو دیني کار: نیک اَعمَال

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د صحابهٔ کرامو او اهل بیتو رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم د محبت زیاتولو، د فیضانِ اولیاء موندلو، د نیک لمُونځ ګزاره، باکرداره او با اخلاقه مسلمان جوړیدلو د پاره د عاشقانِ رسول دیني تحریك دعوتِ اسلامي دیني ماحول لمَن اونیسئ، او د ذیلي حلقے په 12 دیني کارونو کښې هم ښه په شوق حِصّه اخلئ! اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! د دې په برکت سره به د ګناهونو نه خلاصے، د نیکو کولو او د قبر و آخرت د تیارئ ذهن جوړیږي. د ذیلي حلقے په 12 دیني کارونو کښې یو دیني کار رساله **نیک اعمال** هم ده. دا وړه شان رساله د مکتبة المَدینه نه اوغواړئ او که غواړئ نو د دعوتِ اسلامي د ویب سائټ (www.dawateislami.net) نه ئې ډاؤن لوډ کړئ بلکه که نوره آساني غواړئ نو په خپل موبائل کښې ***Naik Amal*** ایپلي کیشن انسټال کړئ، په دې کښې په مختلف نیک اعمالو باندې مشتمل سوالونه ورکړے شوي دي، د هر سوال نه لاندې 30 خانے دي، هره ورځ د خپلې خوښې یو وخت مقرر کړئ او د خپلو اعمالو جائزه اخلئ، او د هغې مطابق ژوند تیروئ، اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! د دې په برکت به د ګناهونو نه د بچ کیدو او د نیکو کولو ذِهن جوړیږي، د زړه پاکي به نصیب کیږي او کردار به مو صفا ستهرا، ځلنده، ښکلے شي. راځئ د ترغیب د پاره یو مدني سپرلے اورو:

# د ټولې کورنۍ اِصلاح اوشوه

د ضلع اټک (پنجاب، پاکستان) د یو اسلامي ورور بیان دے، ما د ګناهونو نه ډک ژوند تیرولو، فلمونه کتل، لوفري کول، لمُونځونه قضا کول وغیره زما په معمولاتو کښې شامل وو، یو ځل زمونږه علاقے ته د عاشقانِ رسول مدني قافله راغله، په هغوئي کښې یو اسلامي ورور ما ته د ماښام د لمُونځ کولو او بیان کښې د شرکت کولو دعوت راکړو، زما خوش قسمتي وه چې زه د هغوئي سره جُمات ته لاړم، د ماښام د لمَانځه نه پس بیان ما له ډیره مزه راکړه، د بیان په آخره کښې مبلغ د **نیک اعمال** رسالے تعارُف اوکړو، په رساله **نیک اعمال** کښې د درج د نیکو نه ډک ژوند تیرولو مدني ګل لیدلو سره زه ډیر خوشحال شوم، د دې رسالے په شکل کښې د شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ د اُمَّت د اصلاح د پاره زړه سوزیدل ما اولیدل نو ما لاس په لاس د بیعت کولو د پاره خپل نوم ورکړو او عطّاري جوړ شوم، د وخت د ولیٔ کامل سره نسبت څه جوړ شو چې د ګناهونو نه بیزاره شوم او نیکو طرف ته مائل شوم، ما د ګناهونو نه توبه کړه او د دعوتِ اسلامي دیني ماحول مې د زړه نه خپل کړو، د دې په برکت سره هم ښه اثر اوشو، اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! په مزه مزه ټوله کورنۍ قادري، رضوي، عطّاري جوړه شوه، په کور کښې د لمُونځو پابندي شروع شوه، فلمونه ډرامے او سندرې باجے بندې شوې او د ګناهونو نه د ډک چینل په ځائے مدني چینل اولګیدلو.[1]

خوب مَدنی قافِلوں کی دھوم ہو
"مَدنی اِنعامات" کی ہو ریل پیل

نیک ہو اُمَّت اے نانائے حسین
نیک ہو اُمَّت اے نانائے حسین[2]

---

[1] ... دلوں کا چین، صفحه:4۔

[2] ... وسائلِ بخشش، صفحه:258۔

**نوټ**: د دعوتِ اسلامي په ديني ماحول کښې **مدني انعامات** ته اوس **نيک اَعمَال** وئيلے شي.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## المَدينه آن لائن لائبريري

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼړو!اَلْحَمْدُلِلّٰه!** د دعوتِ اسلامي ***I.T*** ډيپارټمنټ ورځ په ورځ مونږ ته د عِلمِ دين زده کولو آسانو ذريعو را کولو کښې مَصرُوف دے. د سوؤنو کتابونو او رِسالو **المَدينه آن لائن لائبريري** کومه چې مخکښې صرف په ډيسک ټاپ ورژن کښې وه، اوس ويب ورژن کښې لائيو (نيغ په نيغه) کړے شوې ده. په **المَدينه آن لائن لائبريرئ** کښې د مکتبة المَدينه مختلف موضوعات (مثلاً قرآن و سُنّت، عقائدِ اسلام، فقه او فتاوٰی، اسلامي تعليمات، اخلاق و آداب، سيرتِ رسولِ عربي، سيرتِ اُمهاتُ المُؤمنين، سِيرتِ صحابه و صحابيات، سيرتِ اوليائے کرام، سيرتِ اميرِ اهلسُنت، ملفوظاتِ اميرِ اهلسُنت او فيضانِ مدني مذاکره، اوراد و وَظائف او نعتيه کلامونه وغيره) باندې مشتمل کتابونه او رِسالے موجودې دي. د **المَدينه آن لائن لائبريرئ** نه د فائدے ترلاسه کولو د پاره د دعوتِ اسلامي ويب سائټ [www.dawateislami.net/bookslibrary](http://www.dawateislami.net/bookslibrary) ته لاړ شئ او نورو له هم ترغيت ورکړئ.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼړو!** د بيان په آخره کښې د سُنَّت فضيلت او يو څو د ژوند اوسيدلو آداب بيانولو سعادت حاصلووم. تاجدارِ رِسالت، شَهَنْشاهِ نُبُوَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِىْ فَقَدْ اَحَبَّنِىْ وَمَنْ اَحَبَّنِىْ كَانَ مَعِىَ فِى الْجَنَّةِ ''چا چې زما سُنَّتو سره

مَحَبَّت اوکړو هغه زما سره مَحَبَّت اوکړو او چا چې زما سره مَحَبَّت اوکړو هغه به په جنّت کښې زما سره وي.''[1]

## قناعت سُنَّتِ مصطفٰی صلی اللہ علیہ وسلم دے

د **رسولُ الله** صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **2 فرامین: (1)** چا چې ایمان راوړو، بقدرِ کفایت رزق ورکړے شو او هغه د الله پاک په ورکړے شوي (رزق) قناعت اوکړو بے شکه هغه کامیاب شو.[2] **(2)** اے ابو هریره! قناعت اختیار کړه د ټولو نه به زیات شکر ګزاره جوړ شې.[3]

**اے عاشقانِ رَسُول!** قناعت سُنَّتِ مصطفٰی صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دے. د قناعت معنٰی ده: چې څومره درته میلاؤ شو په هغې راضي اوسیدل، د زیات خواهش نه کول ❀ زمونږ خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته چې به څه میلاویدل په خوشحالئ به ئې خوړل ❀ هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چرې هم په خوراک کښې عیب نه دے راویستے ❀ هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چرې هم د خوندورو او ډیرو ښکلو خوراکونو خواهش نه دے کړے ❀ رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د مال و دولت خواهش نه لرلو.

کل جہاں مِلک اور جَو کی روٹی غذا | اس شکم کی قناعت پہ لاکھوں سلام[4]

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** په سُنَّتِ مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې عمل اوکړئ، قناعت اختیار کړئ ❀ قناعت د ایمان کمال، د اسلام حُسن دے ❀ قناعت کوونکے پخپله د دنیا نه ځان بچ کوي او د آخرت په لار روانیږي ❀ قناعت کوونکے

---

[1]...ابنِ عساکر ج ص

[2]...مسلم، کتاب:الزکاۃ، باب:القناعة، صفحه:376، حدیث:1054۔

[3]...ابن ماجه، کتاب:الزہد، باب:الورع والتقویٰ، صفحه:684، حدیث:4217 ملتقطًا۔

[4]...حدائق بخشش، صفحه:304۔

د الله پاک محبوب دے ❁ د قناعت کوونکي سره خلق هم مینه کوي[1] ❁ امامِ شافعي رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ فرمائي: قناعت د مالدارئ اَصل دے.[2]

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د **مکتبة المَدینه** د **بهارِ شریعت** جلد 3 نه حِصَّه 16 او د شیخ طریقت، امیر اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الیاس عطار قادري رضوي دَامَتۡ بَرَکَاتُہُمُ الۡعَالِیَه د 91 مخونو رساله **550 سنتیں اور آداب** واخلئ او اوئې لولئ! د سنتو زده کولو یوه بهترینه ذریعه د دعوتِ اسلامي قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے.

اُلفتِ مصطفٰے اور خوفِ خُدا
عِلم حاصِل کرو، جَہل زائِل کرو
چاہئے گر تمہیں قافلے میں چلو
پاؤ گے راحتیں قافلے میں چلو[3]

الله پاک دې مونږ له د عمل کولو توفیق راعطا کړي.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

---

[1] ... نضرة النعیم، جلد:8، صفحه:3175۔

[2] ... دیوانِ امام شافعی، صفحه:133۔

[3] ... وسائلِ بخشش، صفحه:669 ملتقطًا۔

# د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

## ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [یعني د جُمعے د شپے] دُرُود

بُزرګانِ دینو فرمائیلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (یعني د جُمُعے او زیارت مینځنۍ شپه کښې) دا دُرُود شریف په پابندۍ سره کم ازکم یو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدینه صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دِیدار کوي او قَبْر کښې د داخلیدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدینه صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر ته د خپل رَحمت نه په ډکو لاسونو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شریکه دا دُرُود اووائیو:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِیِّ الْاُمِّیِّ
الْحَبِیْبِ الْعَالِی الْقَدْرِ الْعَظِیْمِ الْجَاہِ وَعَلٰی اٰلِہٖ وَصَحْبِہٖ وَسَلِّمْ

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

د حضرتِ سیِّدُنا انَس رَضِیَ اللہُ عَنْہ نه روایت دے چې تاجدارِ مدینه صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي که ولاړ وو نو د کښیناستلو نه مخکښې او که ناست وو نو اودریدلو نه مخکښې به د هغه ګُناهونه مُعاف کړے شي. راځئ چې مونږه هم په شریکه دا دُرُود اووائیو:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰی اٰلِہٖ وَسَلِّمْ

---

1... افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ السادسۃ والخمسون، ص۱۵۱ملخصًا

## ﴿3﴾ د رَحمت اویا دروازې:

خوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اویا دروازې بیرته کړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شریکه اووائیو:

صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## ﴿4﴾ د شپږ لاکه دُرُودشریف ثواب

حضرت اَحْمَد صَاوِی رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شریف یو ځل لوستلو باندې د شپږو لاکو دُرُود شریف لوستلو ثواب حاصِلیږي.[2] راځئ چې په شریکه ئې اُووائیو:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِیْ عِلْمِ اللّٰہِ

صَلَاۃً دَآئِمَۃً بِدَوَامِ مُلْکِ اللّٰہِ

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَسَلَّم

یوه ورځ یو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّیقِ اکبر رَضِیَ اللہُ عَنْہُ تر مینځه کښینولو، په دې باندې صَحابَهٔ کرام رَضِیَ اللہُ عَنْہُم حیران شول چې دا خوك ذِی مَرتبه [یعنې اوچتې مرتبے والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[3] راځئ چې مونږه ئې هُم په شریکه اووائیو:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ کَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰی لَہٗ

---

1... القول البدیع، الباب الثانی، ص۲۷۷

2... افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ الثانیۃ والخمسون، ص۱۴۹

3... القول البدیع، الباب الاول، ص۱۲۵

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

د شفِیعِ اُمَّت صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره به زما شفاعت واجب شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکئ:

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللہُ عَنْہُمَا نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتې د يو زر ورځو پورې نيکئ ليکي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[3] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو:

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ

رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

1... الترغیب والترہیب، کتاب الذکر والدعاء، ۲/۳۲۹، حدیث:۳۰

2... مجمع الزوائد، کتاب الادعیۃ، باب فی کیفیۃ الصلاۃ... الخ، ۱۰/۲۵۴، حدیث:۱۷۳۰۵

3... تاریخ ابنِ عساکر، ۱۹/۱۵۵، حدیث:۴۴۱۵